<u>**مطبوعاتي اعلاميه**</u>

**د خلافت د لمر تر ډوبېدو وروسته، د ایمان او عقل پر ځمکه څه پېښ شول؟**

حزب التحریر د خلافت د راپرځېدلو (۱۳۴۲ هـ.ق ـ ۱۴۴۲هـ.ق) د کلیزې په مناسبت پر فعالیتونو بوخت دی، څو اسلامي امت ته یادونه وکړي چې د اسلامي حاکمیت په نشت کې د ځمکې پر سر د ګناه او ذلت وخته د پای ټکی کېږي، چې سل کاله یې دوام وکړ. د یمن خلک نور د خلافت نشت نه شي زغملای.

په دې توګه، حزب التحریر په رجب میاشت کې د خلافت دولت د ړنګېدو د غمیزې په مناسبت، د حزب التحریر د امیر، عالم عطا بن خلیل ابو الرشته حفظه الله په لارښوونه یو نړیوال کمپاین پیل کړی دی. په ټوله نړۍ کې د حزب التحریر غړي، چې د اسلامي امت زامن او لورګانې دي، کار او فعالیت کوي، څو د نبوت پر منهج راشده خلافت بیا تاسیس کړي.

د یمن له بېلا بېلو ښارونو څخه د حزب التحریر شباب د خلافت د ړنګېدو کلیزې په نړیوال کمپاین کې برخه اخلي او د اسلامي نړۍ په نورو هېوادونو کې له خپلو وروڼو او خویندو سره یو ځای حرکت کوي. په ختیځ کې له مالیزیا او اندونیزیا څخه تر مرکزي اسیا، پاکستان، بنګله دېش، افغانستان، شام، عراق، چې دوه سپېڅلې جوماتونه پکې دي، مصر، سوډان، کینیا، تانزانیا، سومالیا، الجیریا، لیبیا، تونس، مراکش، ترکیه، روسیه، اوکراین، اروپا، امریکا او نورو ځایونو ته د اسلامي امت د ویاړ، عظمت او رهبرۍ یادونه کوي، چې یو خلیفه به د اسلام تر حکم لاندې پرې حاکمیت کاوه. له هر ډول حرص څخه یې دفاع کوله او د نړۍ مسلمانانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بیرغ تر سیوري لاندې ژوند کاوه. پر ځمکه د اسلام د حاکمیت په نشت او د استعمارګرو غربي دولتونو واکمنۍ؛ لکه پانګوال نظام چې دین له ژوند څخه بېلوي او کمونیزم چې له خالق او دین څخه انکار کوي، د اسلامي امت تر منځ یې د نفوذ سیمې ووېشلې، غربي ناسم افکار یې راوړل او داسې نظام یې رامنځته کړ، چې اسلامي هېوادونه پکې ووېشل شول. د اسلام سیاسي، اقتصادي، بهرنۍ سیاست او د نورو اړخونو احکام پکې منع شول.

غرب موږ ته د نشنلیزم مفکوره راکړه او په ډیموکراسۍ سره یې هغه وځارله، څو مسلمانان ویجاړ او له ۵۰ څخه پر ډېرو ټوټو یې ووېشل شي. په داسې حال کې چې مسلمانان د هغو کسانو پر وړاندې یو لاس وو، چې د دوی دښمنان وو. په دې کې ځینې د مسلمانانو زامن هم شریک وو، چې د الله سبحانه و تعالی او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په پیروۍ کې یې خیانت وکړ او د مسلمانانو عزت یې تر پښو لاندې کړ. خلافت هغه وخت ړنګ شو چې نړۍ یې پر وړاندې ودرېده او هېڅکله نه کېناستل. په نشت کې یې د عقاب بیرغ هم نه و، شنه،

سره، سپین او نیلي بیرغونه را پیدا شول او په دې سره د اسلام قانون له تطبیق څخه پاتې شو، چې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې نازل شوی و.

یمن، چې باب المندب تنگی یې یو ښه ستراتیژیک موقعیت دی، ۱۰۰ کاله کېږي چې له خلیفه څخه محروم دی. د خلافت په نشت کې د یمن خراب وضعیت او د غربي هېوادونو تسلط تر هغه وخت پورې له منځه نه ورل کېږي، چې خلافت تاسیس، او پر ځمکه د الله سبحانه وتعالی احکام پلي نه شي، څو د تل لپاره د غربي هېوادونو نفوذ له منځه یوسي. حزب التحریر د دغه کمپاین په لړ کې د یمن د خلکو، د ایمان او عقیدې خلکو او په ځانگړې توگه د اسلامي امت د خلکو د ځواک او ساتنې په هڅه کې دی، چې هغوی ته د واجب یادونه وکړي او نصرت ترې وغواړي؛ دوی له حزب التحریر سره لاسونه یو کړي او د نبوت پر منهج د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره کار وکړي، څو دوی په دنیا کې عزت او په اخرت کې ډېر اجر تر لاسه کړي.

**#أقيموا_الخلافة**

**#ReturnTheKhilafah**

**#YenidenHilafet**

**#خلافت_بیا_تاسیس_کړئ**

**د حزب التحریر- ولایه یمن مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د رجب ۲مه**

**۲۰۲۱م کال، د فبروری ۱۴مه**

**د صدور گڼه: ۲۳/ ۱۴۴۲**